© rasailojaraid.com



مولانا گل شبیر حقانی صاحب - او - تی.
شاه گئ - خیبر ایجنسی

# دَ اکوړي شیخ الحدیث شیخ القرآن

## څه شو؟

مرګیه وایه دَ عِلمونو هغه کان څه شو — دَ حق پرَستۍ قافلې هغه کاروان څه شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث شیخ القرآن څه شو

(۱)

بوراګان ژاړي چه ګلشن کښې زمونږ ګل نشته — ګلشن ویجاړ شو اوازونه دَ بُلبل نشته
شمع دِ مره کړه پتنګان پرِ سوزیدل نشته — دارالحدیث کښې قال الله قال الرسول نشته
دَ عالمانو طالبانو قدردان څه شو — مینَ په دین چینه دَ عِلم او عرفان څه شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث، شیخ القرآن څه شو

(۲)

وو عبدالحق، ویل ئې حق مرشته ئې دَ حق کوُله — مقابله ئې هر میدان کښې دَ ناحق کوُله
چغه دَ حق ئې په ایوان دَ ضیاء الحق کوُله — وینا په ډاګه ئې دَ اِعلاء کلمة الحق کوُله
عالمان ژاړي چه زمونږ میر کاروان څه شو — مقابلې له دَ باطل مردِ میدان څه شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث، شیخ القرآن څه شو

(۳)

شمع دَ دین وه پرِ راټول وُو پتنګان واړه — جمع په ده وُو طالبان او عالمان واړه
ورله راتلل به امیران او غریبان واړه — وُو شاګردان ئې مجاهد افغانستان واړه
سپه سالار دَ مجاهدو دَ کمان څه شو — هغه زمونږ دَ دعاګانو لوئې باران څه شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث، شیخ القرآن څه شو

(۴)

اوس عِلیین کښې ئې تر اَبَدُالآباد لرې — سمیع الحق، انوار الحق ئې بامُراد لرې
حقانیه او فضلاء ئې پۀ تول آباد لرې — ما مجاهد ربه په علم بانډِ مناد لرې
زما محبوب، زما مُرشد، پیر مهربان څه شو
دَ حقې لارې قلندر، درویش انسان څه شو
دَ اکوړي شیخ الحدیث، شیخ القرآن څه شو

© rasailojaraid.com